پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

## مونږ غواړو چې له بربرانو څخه ځان خلاص کړو ، اشرف غنی احمدزی بربران بیرته زمونږ کور ته راولی

ګرانو هیوادوالو : په دی کی هیڅ دشک ځای نشته چې پوهان اوعالمان په نړی کی ونه اوسی اود دی توان ونه لری چې ډیر پیچلی مسایل او اړین علمی موضوعات ونه څیړی اودهغه په ریښو او اړیکو با ندی د معاصر نړی لید په رڼا کی رڼا وانچوی اویا هغه ونه څیړوی ، مګر ښه عالم او ماهر متفکر هغه وی چې د هغه پوه ، عقل ، درایت ، نړی لید او هدفمند کار دټولنی اوبیا په ټولنه کی دخوارو ، بی وزلو ک ونډو رنډو ، ولوږو اوتندواودځپل شوی خلکو په چوپړ اوخد مت کی اووسی او یا داچی هغه عالم او متفکرباید دومره لړلید اونړی لید ولری چې دهغه په رڼا کی دشرایطو سره سم وشی کولای چې دخوارو دستونزو دمینځه وړلو د پاره لاره اواره کړی اوخلکو ته دهوسا ژوند زمینه مساعد کړي ، مګر نه داچې دخلکو په لاره کی دځپل ځانګړی منافعو دلاسته راوړلو دپاره کوهی وبا سی ، ګرچه زه با ور نه کوم چې داکتر صاحب اشرف غنی دومره ټیټ نړی ولید ولری کوم چې پرهغه با ور وشی . اوهغه داچې باید داکتر صاحب اشرف غنی ته په ډاګه شی چې دافغانستان خلک مسلمان دی او د اسلام اود اسلامیت زده کړی او تعلیمات دځپلو پلرونو ، نیکه ګانو او دځپلو کورنیو دبا عزته او دبا شرفه او پر وطن باندی دمینومتعلقینو څخه زده کړی او هر افغان که نر دی او که ښځه داسلام په ارکانو اوپر اصولو باندی له هر پاکستانی اوله هر ګمراه عرب او اروپایی نوی مسلمان شو خلکو څخه ډیر ښه پوهیږی او الحمد الله ټول افغانان پرهغه اراسته اوځپل مذهبی منا سک په ورین تندی منی اومخ ته وړی ، مګر هیڅ یو افغان په استثنا دڅو دګوتو په شمار سره وهابی ، اجیر اود اسلام سیاسی پیروانوپه څیر په اسلام کی افراطیت نه منی اوداځکه چې درسول اکرم صلی الله وسلم حد یث دی چې وای (کل اموراً خیراً من اوسط ها ) افغانان په دی وجهه اسلام سیاسی نه منی چې دهغه هستونکی انګلیسان دی چې دحسن البنا اود ځنو نورو اجیرو ګمراه په اصطلاح مسالمانانو پواسطه سره مینځ ته راغی کوم چې اوس په یوه بدعت امیز مکتب اغوښتی دی ،هغه مکتب چې علی جناح دانګلیسانو په مرسته سره له هنده دپاکستان په نوم یوه هډه (هډه په دی چې ددغه سیمی پولی دګاونډیانوسره معلوم نه دی یواځی دانګلستان دپالیسی دممثل په بڼه په منطقه کی ځای پرځای شوی اودافغانستان اوهندوستان یوڅه خاوری تر ولکی لاندی راوستل شوی ) مینځته راوړ چې اوس په همدغه په اصطلاح هیواد کی دیوبندی

اوطالبی مدرسو کی نوی ځوان نسل ته دسړی وژلو ، ځان وژنو تعلیمات ورکول کیږی اوزمونږ دهیواد خلک هره ورځ وژنی اودهغو استاذی په مختلفو جامو اوس هم دارګ اود افغانستان داسلامی دولت په چوکاټ کی نا ست دی او افغانستان د قهقرا خواته تیل وهی. زه ددی یادونی په اړین هیڅ چا ته په افغانستان کی روشنفکر او مترقی عنصر نه وایم چی اشرف غنی هم دنورو موجوده مذهبی بیرته پاتو متحجرو ، متعصبو دتیری ددوری ړوند فکرو اوبالاخره دعبدالله عبدالله اودهغه دټولو همنظرو انډیوالانو په تله کی ونه تلی اوهغه داچی اشرف غنی دخپل انتخا با تی مبارزاتو په ترڅ کی ویلی دی ، چی که چیری زه دافغانستان دجمهور ریس په صفت لوړه وکړم نو زه غواړم چی دمسجدونو مناری دارګ ددیوالونو سره رانژدی کړم اویا داچی که چیری زه جمهور ریس شم نو دافعانی ښځینوو د پاره بیل پوهنتون جوړوم (افرین ددی یویشتمی پیړی پړدی افغانی متفکر با ندی چی افغانستان بیرته بربریت خواته وړي ).

محترم احمدزی صیب ! زیار مه با سه اود افغانستان د مسجد ونو منا ری دارګ دیوالونو ته نژدی مه راوړه اوداځکه چی دین اوشریعت لا وخته حتی دداکتر نجیب الله په زمامداری کی داساسی قانون چی یو ملی وثیقه دی دهغه په لمړی ماده کی په زرین کرښو لیکل شوی وه چی دافغانستان دین اسلام دی . اواوس هم په موجوده اساسی قانون کی همدذغه اصل په نظر کی نیول شوی دي ،مګر که تاسی غواړی چی دهغو مساجدو منارونه دارګ دیوالونو ته نژدی کړی کوم چي په هغه کی د(ای اس آی ) اجیر افراطی ملایان آذان ورکوی همغه ملا چی دافراطیت اودبربریت موعظه کوی همغه ملا چی هره ورځ دهغه په فتوا سره دافغانستان وطنپال په کفر نیول کیږی اویا هغه ملاچی دپاک لمنو افغانی ښځو دآزادی او زده کړی مخه نیسی اویا پرهغه افغانی ښځه باندی د سنګسار فتوا صادروی ، زیار مه با سه چی ددی ډول مساجدو دیوالونه دارګ دیوالونو ته نژدی کړی که نه اول به تا له دی ارګ څخه وباسی اوهغه د چا په خبرو کوم چی ستا سی محترم میرمن عیسوی مذهب دی ایا دا ډول خبری او ووعدی پخپله دبربرانو په فرهنګ کی نه په سترګو کیږی ؟ یا داچی تاسی ویلی چی زه غواړم د ښځینه افغانانو دپا ره دنارینوو څخه بیل اوجدا پوهنتون جوړوم ، ایا د تا سی په نظر دا کافی نه وه چی دافغانستان ښځي له پیړیو پیړیو راهیسی دانګړ په څلورو احاطه شوی دیوالونو کی بند اود بی مزده نوکر په څیر دنارینوو په چوپړکی ترځی ورځی تیروی چی اوس بیا تاسی محترم دیوویشتمی پیړی متفکر صیب کوم چی د تا سی نوم دامریکی دخد متګذارانو په لست کی په پنسل لیکل شوی اودهغو دجیب دپیسو څخه غواړی چی دافغانستان ښځینه بیل پوهنتون جوړ کړی ، ا یا تا سی په دی اصل باندی با ور نه لر چی هر څومره د ښځینه او نارینه ځوان قشر تر مینځ په فرهنګی ، اجتماعی اویا دژوند په ټولو اړخونو کی نژدی والی ګټه لری یا داچی دا پخپله اجتماعی ، معاشرتیُ فرهنګی او.... ستونزی له مینځه وړی ا یا که چیری د ښځینه او دنارینه ځوان قشرترمینځ دوطن

دروان ستونزی دله مینځه وړلو په اړه مفکوروی نزدیوالی پیدا شی دا به دافغانستان دټولو خلکو په ګټه به نه وی؟ په هرصورت هغه د دری په ژبه کی یومتل دی چی وايي ( هرکله وهر خیال ) کا شکی هغه څوک چی دافغانستان دجمهور ریس په صفت لوړه کول دهغه د ذکاوت ټسټ ترسره شوی وای مثلاً دیومثال په بڼه : داکتر عبدالله – عبدالله هیره کړی چی دغره د څوکی د پا سه پر کا بل باندی دراکتو وګذار داور په ډله قومانده ورکول ، که چیری د هغه عقل او تمیز په نورمال بڼی سره خپل دندی تر سره کول ایا هغه به ځان د جمهوری ریاست د پاره به نومول ؟ یا ایا دهغه وجدان عبالله ته نه وای ویلی چی ته خو دافغانستان دخلکو قاتل یی نو ته څنګه کولای شی چی ددی شهید پرور خلکو دپا ره خدمت وکړی٬ تا سف پر تاسو بوس مغزو اجیرو روشنفکرانو چی دخپل قلمونو نوکی ددی بربرانو د بریالیتوب د پاره کاغذ ونه توروییی ، داهغه څه دی چی دغه اوسنی دشطرنج دانی چی سره یواځی دلوبی په وخت کی مخامخ کیږی اوبیا وروسته له لوبی څخه په یوه جعبه کی سره ژوند کوی ایا دعبدالله عبدالله اوداشرف غنی ترمیخ دمفکوری کوم ښکاره فرق اوتفاوت لیدل کیږی ابداً نه !!! دواړه د سپینی ما نۍ هغه تربیه کړشوی نوکران دی چی دخدمت ګذاری په رقا بت کی سره مخامخ شوی دی اوبس .

په درناوی -۲۰۱۴-۶-۱۱